Hessisches Ministerium
für Soziales und Integration

HESSEN

# Refugee-Guide:
# په هسن ولايت كه هركله راشى!





درنو آغلي او ښاغلی همکارانو ، د هسن دايالت دپناه غوښتونکو دلمړنيو هستوګن خايونو مشرانو او په تيره بيا :

ګرانو پناه غوشتونکو ،

تاسی ، جرمنی او ددغه هيواد دهسن ايالت ته پناه راوړی او داوړدی لاری دزياتو کړاونواو ستو مانيو دګاللو نه وروسته بايد تاسی دلته په يوه پردی هيوادکی په اصطلا خپله لاره پيدا کړی . چی دا به ديو لړ ستونزو سره هم نغښتی وی .

زه خوشاله يم او هيله کوم  چی تاسی ته ديوې لارښونکی  کتابچی په وړاندی کولو سره ، ستاسی دستونزو دحل په لاره کی يو څه مرسته کړی وی .

د Refugee – Guide يا « پناه غوښتونکو ته لارښونی » په نامه دکتابچی دتهيه کولو په برخه کی زيات شمير

افتخاری کارکونکو ، دکتورانتانو او پوهيدونکو زمونږ سره مرسته کړی  چی زه دوی ټولو ته کوروداني وايم

او له هغوی څخه مننه کوم. دوی ،   نه يواځی ددغی کتابچی مواد را غونډ کړی، بلکی متونه يی هم ليکلی او ترتيب کړی دی  او مونږ ته يی اجازه راکړی چی  په وړيا توګه  ددغه موادو څخه  کاروا‌خلو او ستاسی په اختيار کی يی کيږدو. ددوی،  دغه کار ددرنښت او دقدر وړيوکار بريښی ! نو له همدی امله زه دزړه له کومی دټولو هغه کسانو څخه چی په دغه کار کی يي ونده اخيستی ، مننه کوم ! په تيره بيا ددغې پروژی دتنظيم کونکی ښاغلی مېنانيل شتراوت من اود آغلی فرانسيسکا فيشر څخه .

زه تاسی ټولو ته دهسن دايالت دحکومت په استازيتوب هرکلی وايم . مونږ په دی پوهيږو چی ژوند کول  په دغسی يو لوی هستوګن خی کی چي په اصطلا دپناه غوښتونکو دمنلو د لمړی هستوګن خی په نامه يادېږی، آسانه خبره نده . خو څنګه چی په نړی کی ستونځی او کړکيچونه زيات دی او ډير شمير انسانان  هسی چی دلته،  دوی پناه راوړی

نور زيات شمير پناه غوښتونکی هم دی نو په لمړی سرکی له بده مرغه بله لاره نشته .

خو مونږ دهسن په ايالت کی دټولو ممکنه وسايلو سره داهڅه کو چی له تاسی سره مرسته وکړو ! تاسی په دی برخه کی ډاده اوسی .

زه هيله کوم چی د Refugee – Guide يا « پناه غوښتونکو ته لارښوني » په نا مه  دکتابچی په مرسته تاسی وشی کولای په يوه بل هيواد،  کلتوراو پردي ژبه کی خپل دژوند لاره پيدا کړی.

ستاسی

شتيفن ګروتنر

دهسن دايالت دټولنيزو او دانتګريشن دچارو وزير

# جرمني ته بنه راغلاست!

**Willkommen in Deutschland!**

د دي لارښود موخه دا ده تر څو تاسي ته د جرمني په اړه معلومات وړاندي کړي. دا لارښود د کېوالو د عامه پوښتنو د ځوابولو په موخه جوړ شوی ده. د همدي لارښود زياتره مشورې کومه مقرره يا جدي قانون نه دی. کېدای شي چي په جرمني کي خلک زياتره د همدي لارښود سره سم عمل و نه کړي. خو بيا هم، لاندني تشريح شوي کړه وړه هغه څه دي چي زياتره خلک يي په زياته کچه تر سره کوي.

# مطالب


عامه ژوند 3

شخصي يا انفرادي ازادي 5

ټولنيز ژوند 6

تساوي (برابري) 7

چاپيريال او د خلکو ژوند 8

خواړه، څښاک او سګرټ څکول 9

رسميات او بيروکراسي 10

بيړني حالات 11

د دي لارښود په اړه 12

# عامه ژوند

«ګوتین ټګ» (سهار مو په خیر) او «اوف ویدرشین» (د خدای په امان) دا په جرمني کې معمول ستړي مسي کول دي. کله چې تاسې یوازې له یوه کسا یا څو کسانو سره مخامخ کېږئ نو له هغوی سره ستړي مسي کول ډېر عام ده. د بېلګې په توګه، کله چې تاسې یوه واړه پلورنځي ته او یا هم د ډاکتر د انتظار خونې ته ننوزئ نو یوازې د «ګوتین ټګ» په ویلو سره تاسې هلته له ټولو ناستو کسانو سره ستړي مسې کړي ده. په ورته شکل تاسې کولای شئ په کلي او یا هم په لرو پرتو سیمو کې په ورته شکل سره ستړي مسې وکړئ.

په عامه ځایونو کې مسکۍ کېدل کومه بې ادبي نه ده، هان که له یوه نابلده کس سره هم مخ شئ. معمولاً خلک هڅه کوي چې د مسکۍ کېدو تر څنګ دوستانه او خوشاله واوسي.



په جرمني کې خلک خپل شخصي حریم او ځای ته ډېر ارزښت ورکوي، چې زیاتره وخت دوی له یوه بل څخه ډېر لرې لرې کښني. په جرمني کې تاسې کولای شئ چې له یوه نابلده کس سره په ریل ګاډي یا رستورانت کې یوازې د سلام علیک او خدای په امان په ویلو سره د ساعتونو لپاره یو ځای کښینئ. همداشان، زیاتره خلک کوشش کوي تر څو په خپلو

څوکیو کښیني په تیره بیا په عامه ټرانسپورتي وسایلو کې.

د خلوت او چوپتیا لپاره، زیاتره خلک خپلې دروازې بندې ساتي، د بېلګې په توګه په لویو دفترونو کې او یا هم په کورونو کې. کله چې تاسې کوم کوم یا دفتر ته ننوزئ، نو مودبانه کار دا ده چې لومړی دروازه وټکوئ وروسته بیا تاسې ته د معمول سره سم ښه راغلاست ویل کېږي او بیا کولای شی خپله پوښتنه وکړئ.

په جرمني کې یکشنبه عمومي رخصتي وي. تقریباً ټول دوکانونه تړلي وي او یوازې ډېر کم خلک کار کوي. که چیرته د رخصتۍ په ورځو کې ستاسې غالمغال د ستاسو د ګاونډیو د مزاحمت سبب وګرځي، نو کېدای شي هغوی له تاسې څخه شکایت

وکړي د بېلګې په توګه که تاسي د رخصتی په ورځ د خپلې حویلی چمن په ماشین باندې وريېئ او یا هم د خپل کور په دیوالونو کې الماری یا کوم بل څیز نصبوی. همداشان د جرمني خلک د خوب په وخت کې چې د شپې له ۱۰ بجو پیلیږي او د سهار تر ۷ بجو پورې ده نه غواړي چې ګاونډی یې غالمغال وکړي او یا هم د دوی د خوب خنډ وګرځي.

په عامه ځایونو کې د حاجت رفع کول یو سپکاوی ده. په زیاترو ځایونو کې عمومي تشنابونه شته. دا عمومي تشنابونه معمولاً کموټ او تشناب کاغذ لري، خو شاور نه لري. همداشان کارول شوی کاغذ تشناب باید په کموټ کې واچول شي نه د کثافاتو په سطل کې. خو د ټېونو پټی او د ښځو د قاعده ګي پمپرس باید د کثافاتو په سطل کې واچول شي. که چیرته په تشنابونو کې کوم ځای چټل کېږي نو باید هغه په بورس باندې پاک کړئ. باید داډه واوسئ چې تشناب پاک او وچ پرېږدئ. همداشان توصیه کېږي چې له کموټ څخه په ناسته ګټه واخلی، البته په هغه صورت کې چې په ولاړو باندې د بولو کولو سیستم موجود نه وي، البته دا کار باید د نارینه او ښځینه دواړو لپاره په نظر کې ونیول شي. سربیره پر دې، کله چې له تشناب څخه فارغیزی نو باید خپل لاسونه پاک ومینځی ځکه چې له روغتیایي اړخه دا ډېر مهم اصل دی.

په عامه ځایونو کې په تیره بیا په عامه ټرانسپورت کې نه باید په لوړ اواز او د زیات وخت لپاره خبرې وکړئ، ځکه دا ډېر سپک کار ګڼل کېږي. په داسې ځایونو کې خبرې کول او یا هم په ټلیفون کې خبرې کول باید ډېرې ورو وي.

په عامه ټرانسپورټ کې د سپین ږیرو، ناروغانو او امیندوارو ښځو لپاره او همداشان د ویلچیر او لکړو لپاره مخصوص سیټونه او ځایونه دي. کله چې داسې کسان ټرانسپورت ته راخیزي، نو باید دا ځایونه سمدلاسه ورته خالي شي.

په برقي زینو کې خلک معمولاً ښی خوا ته ولاړ وي او کېڼې خوا ته تګ کوي.

که مو مرستي ته اړتیا لرله نو په اسانی سره کولای شی چې له یوه بالغ کس څخه پوښتنه وکړئ: خلک معمولاً ډېره دوستانه دي. که چیرته ماشومان وي نو جدي توصیه درته کېږي چې د هغوی د والدین له اجازې پرته ور نږدې نشئ.

# شخصي یا انفرادي ازادي

هر څوک کولای شي خپل مذهب او دین ته پاه بند واوسي او هغه پر ځای کړي. په جرمني کې مذهب د هر چا خپله شخصي مسئله ده. یعني تاسي ازاد یاست او کولای شی په هر هغه څه چې ستاسي خوښیري، عقیده ولری خو په مقابل کې له تاسي څخه هم غوښتل کیږي تر څو نور خلک ازاد پرېږدی تر څو هغوی هم په خپل خدای او یا هم پر هیڅ څه باندې عقیده ولري.



په جرمني کې عقاید او مناظرې زیاتره د یوې روغې جوړې یا مصالحې لپاره تر سره کیږي، نه د تضاد د رامنځته کېدو په خاطر. رسنی په جرمني کې یو ډول ځانګړې خپلواکۍ لري یعني د رسنیو خپلواکي. کوم چې د قانون له خوا یې تضمین کیږي. رسنی زیات شمېر مسایل تر خپل پوښښ لاندې راولي، لکه پر دولتي او ټولنیزو نهادونو (لکه کلیساوو) باندې انتقاد کول. د بیان ازادي تاسي ته حق درکوي تر څو هغه څه چې ستاسي په مغزو کې درګرځي هغه بیان کړی خو داسې هم نه چې له نورو کسانو سره تبعیض وشي او یا هم هغوی ډېر جدي توهین او یا هم وګواښئ.

په عامه ځایونو کې د ورته او یا هم مخالفو جنسونو تر منځ د مینې اظهارول یوه عادي خبره ده. په دې کې کېدای شي چې د یوه بل لاس نیول او هان د یوه بل ښکلول یا په غیږ کې نیول شامل واوسي. په جرمني کې دا ټول منل شوي کړه وړه دي او که مو چیرته ولیدل نو تاسي ترې تیرېږئ.

د بدن د ځینو برخو لوڅوالی په جرمني کې یو عادي کار دی د بېلګې په توګه د ټي شیرټ اغوستل او یا د لنډو لمنو اغوستل. خو نورو خلکو ته ښه په ځیر سره کتل یوه بې اخلاقي ګڼل کیږي.

د سونا په ځایونو او د لامبا په ځایونو کې تکه یا رخت ازادی دی. مګر خلک زیاتره په دغو ځایونو کې د لامبا نیکر اغوندي. معمولاً د لامبا په ځایونو او سونا کې د ښځو او سړو تر منځ کوم بېلوالی نه وي، خو بیا هم ځیني وختونه د نارینه او ښځینه وو لپاره هغه هم په ځانګړو حالاتو کې وخت ریزرف کیږي.

# ټولنیز ژوند

په جرمني خلک یوه بل ته لاس ورکوي هم کله چې چاته ورځي او هم کله چې ترې ځي یا نویو خلکو سره مخامخ کېږي. دا یو عادي کار دی کله چې کوم کس له نورو خلکو سره مخامخ کېږي باید هر یوه ته لاس ورکړي. همداشان د لاس ورکولو په وخت کې باید د مقابل کس سترګو ته وګوري. د لاس ورکول نارینه او ښخینه دواړو ته عام کار دی.

کله چې له ملګرو سره سټړي مسي کوئ نو خلکو ته غیږ ورکول یو معمول کار دی او د جرمني په ځینو برخو کې خو یو بل په غامبورو سره ښکلوي ولو که مخالف جنس وال هم وي. البته دا کار په جرمني کې د غیر جنسي یوې دوستانه لارې په توګه پیژندل کېږي.



خلک زیاتره هر هغه څه چې فکر کوي، هغه وایي. د هغوئ مقصد بې ادبي نه بلکې صداقت او ریښتینولي ده. سازنده یا رغوونکي یا مثبت انتقاد د خپل ځان او نورو د پرمختګ او ښه والي لپاره مهم اصل بلل کېږي، په تیره بیا د کار په حالت کې. نو له همدې کبله که پر چا انتقاد کېږي او یا هم هغه په نورو انتقاد کوي، دا کومه غیرعادي مسئله نه ده.

شي لږ ناوخته درشم. دا کړنلاره هم د کار او هم د شخصي مناسبتونو لپاره ډېر معمول ده.

وخت ته توجه کول ډېر مهم ده. که چیرته تاسې له چا سره وعده اېښې وي او یا هم له ځینو خلکو سره غواړی چې وګورئ او بیا ناوخته شی، نو پنځه دقیقې ناوخته کېدل هم په دې معنی ده چې ګواکې تاسې هغوئ ته درناوی نه لری او هغوئ مو درته انتظار کېنولي دي. که چیرته ناوخته یاست، نو هغه کس ته زنګ ووهئ او ورته ووایاست چې زه کېدای

کله چې تاسې ته څوک د څه شي ننګ کوي، نو د «نین، ډنکه» یعنې (نه، مننه) تر ټولو ښه ادبي نه ویل دي او «بیتې» یا «جیرنې» بیا د (هو) مننه ورکوي.

# تساوي یا برابروالی

د جنسیت، نژاد، دین یا جنسي میلان له مخې تبعیض غیرقانوني کار دی او کېدای شي تر تعقیب لاندې ونیول شي. که چیرته تاسي احساس کوئ چې درسره تبعیض کېږي، یا ګواښل کېږئ هان که په شفاهي ډول سره هم وي: نو پولیس ته زنګ ووهئ. د هر ډول تبصرې، سپکاوي، تبعیض او ګواښ پر وړاندې زورزیاتی کارول د منلو نه دی. برسیره پر دې، زورزیاتی کول په جرمني کې غیرقانوني کار دی.

نارینه او ښځینه برابر دي او له کټ مټ ورته حقونو څخه برخمن دي. که هر څوک له تاسي وغواړي چې هغه (که ښځه وي یا نارینه) یوازې پریږدئ، نو تاسي باید بالکل د هغه خبره ومنئ: د نورو خلکو څورول که هغه نارینه وي یا ښځینه، منع دي. د یوه کس د انځور اخیستو نه مخکې باید له هغه څخه اجازه واخلئ.

همجنسګرایي په جرمني یو معمول کار ده. د بېلګې په توګه د جرمني یو پخوانی د بهرنیو چارو وزیر همجنسګرا و. همجنسګران کولای شي په قانوني توګه خپل واده هم ثبت کړي.

خلک کولای شي په ازادانه توګه سره د دې تصمیم ونیسي چې له چا سره او چیرته واده وکړي. دا خبره هم ډېره عامه ده چې هېڅ واده نه کوي او یا دا چې د ماشومانو پلرونه او میندې داسې وي چې هېڅ واده یې نه وي سره کړی او یا هم نه غواړي چې ماشومان ولري.



# چاپېریال او ایکولوژي

په جرمني کې خلک د هغوی د چاپیریال د دوستانه کړو وړو له کبله ډېره مشهور دي: هغوی کثافات سره بېلوي او هڅه کوي چې هغه بیرته په دوران کې واچوي. د هغوی نه خوښيږي چې کثافات دې پر ځمکه پراته واوسي. دا خبره هم په ښاریاتو او هم په طبیعي ځایونو کې رښتیا ده، د بېلګې په توګه په پارکونو کې، سړکونو ته نږدې او همداشان په ځنګلونو کې. دا ډېره عامه ده چې کثافات باید په هغه ځای کې نږدې د کثافاتو په سطل کې واچول شي، هان که د هغو کثافاتو د وړلو لپاره تر اوږده ځای پورې تګ ته ضرورت هم وي. اساساً په عامه ځایونو لکه د ریل ګاډي په تمځایونو، د موټرونو په تمځایونو او پارکونو کې د کثافاتو سطلونه ایښي وي.

پرانیستي وساتو. کله چې کړکی خلاصي وي، نو د دې لپاره چې په انرژي کې سپما وکړو، باید مرکز ګرمي بندي کړو.

زیاتره بوتلونه له ۸ تر ۲۵ سینټه پورې کوچنی ډیپوزیټ لري چې کله هغه بیرته دوکاندار ته ورکول کېږي، نو هغه ډیپوزیټ هم ورکول کېږي. تاسي کولای شی خپل بوتلونه بیرته هغو دوکانونو ته ور وسپارئ کوم چې تاسې ترې اخیستي وي. دا په دې معنی چې له چاپیریال سره مرسته وشي او هغه بیرته په دوران کې واچول شي او بیرته نور بوتلونه ترې جوړ شي تر څو د کثافاتو حجم هم راکم شي.



په جرمني کې زیاتره خلک هڅه کوي تر څو د انرژۍ او سرچینو په کارولو کې محدودیت راولي. دا کار هم د چاپیریال ساتنې او هم د پیسو د سپما لپاره تر سره کېږي. د بېلګې په توګه، خلک هڅه کوي تر څو یخچال د زیات وخت لپاره خلاص پرېنږدې (هم په کور او هم په سوپرمارکېټ کې). خلک معمولاً کله چې له خپلو کورونو څخه د باندې وځي، د رڼا ګروپونه خاموشه کوي.

تږلي کړکی معمولاً ډېرې کلکي بندي وي. له همدې کبله، اړینه ده تر څو ځینې وختونه د هوا د وتلو لپاره

# خواړه، څښاک او سګرټ څکول

د نل اوبه په بشپړه توګه سره صحي دي. په جرمني کې د نل اوبه په بشپړه توګه تر څارنې لاندې وي او له هر ډول میکروبونو څخه خوندي وي. په دې برخه کې یوازې څو استثناوې شته، د بېلګې په توګه په عامه ځایونو او ریل ګاډو کې، چې هلته مخصوص لیبلونه وهل شوي دي: نین ترینکواسر (یعنې د اوبو څښل منع دي).



په جرمني کې تاسې کولای شئ چې ډول ډول خواړه ومومئ چې په هغو کې د خوګ غوښه، د پسه غوښه او چرګان شامل دي. تاسې کولای شئ وپوښتئ چې په خوړو کې کوم ډول غوښه ده دا په هغه صورت کې چې تاسې نه غواړئ کوم ډول غوښه چې ستاسو ښه نه ایسي هغه و نه خورئ. دودیز جرمنیان زیاتره د خوګ غوښه خوري.
کېدای شي په زیاترو سیمو کې تاسې ډونر کباب ومومئ. ډونر کباب یو ډول ساده کباب دی چې په ډوډۍ کې پیچل شوی وي. دا ډول کباب د چرګ له غوښې او د پسه له غوښې جوړیږي. ډونر کباب لکه د نورو فسټ فوډ خوړو (پیزا، برګر، چپس او داسې نورو) په څیر معمولاً پرته له قاشق او پنجې څخه خوړل کېږي. که څه هم، هغه د میز په سر باندې خوړل کېږي.
د جرمني زیاتره شیریني باب په خپل ځان کې له خوګ څخه جوړ شوي جیلیټین لري، که چیرته تاسې غواړئ چې ډاډ واوسئ چې ایا دا حلال ده او که نه نو هغه یې واخلئ چې پر لیبل باندې یې «ویجیټرین» لیکل شوی وي او یا هم په ترکیباتو کې یې جیلیټین نه یې لیکل شوی.

په جرمني کې ډول ډول ارزانه پلورنځایوه شته لکه (ALDI, LIDL او Penny) او همداشان ډېرې لوړ بیه پلورنځي لکه (REWE او EDEKA) شته چې په دغو پلورنځیو کې د انسان د ژوندانه د اړتیا وړ هر ډول توکي پلورل کېږي. د دې تر څنګ، د بزګرانو مارکېټونه شته او همداشان د ترکانو، افریقایانو، اسپایانو او یونانیانو واړه واړه پلورنځي شته. که تاسې غواړئ چې یوازې حلال خواړه او غوښه واخلئ نو باید د ترکانو یا عربانو پلورنځیو یا رستورانتونو ته ورشئ. همداشان ځینې د تیلو پمپونه هم پلورنځي لري چې ۲۴ ساعته پرانیستي وي خو د هغوی د توکو بیه نسبت نورو ته ډېره لوړه وي.

الکول په تیره بیا بیر او شراب د ماښام په مهال په ټولنیزو ناستو کې ډېر عام دي، د بېلګې په توګه د شپې د ډوډۍ په وخت او همداشان له ملګرو سره د تفریح په مهال. خو بیا هم، دا یو منل شوی حقیقت دی چې نه باید الکول وڅښو او زیاتره جرمنیان هېڅکله هم شراب نه څښي. که چیرته تاسې ته د شرابو د څښلو بلنه وشي، تاسې کولای شئ ورته منفي جواب ورکړئ او ورته ووایئ چې «نین، ډنکه». که مو چیرته شراب څښلي وي نو بیا تاسې د موټر چلولو حق نه لرئ.

سګرټ څکول په زیاترو عامه ځایونو کې هم د ښځینه او هم د نارینه وو لپاره یوه عادي خبره ده. په رستورانتونو او د ریل ګاډو په تمځایونو کې د سګرټ څکولو لپاره ځانګړی ځای موجود وي. معمولاً دا ډېر ادبي کار دی چې د سګرټ څکولو په مهال د باندې ووځئ او یا هم بالکون ته ووځئ. هغو کسانو ته نږدې چې سګرټ نه څکوي، ماشومان وي او یا هم امیندواره ښځه وي، سګرټ څکول یو سپک کار ګڼل کېږي.

# رسمیات

دوکانونه او رسمي دفاتر په خپل وخت سره پرانیستل کیږي او بیرته تړل کیږي. د بېلګې په توګه که چیرته د کوم دفتر یا دوکان د بندیدو وخت (Öff-nungszeiten) په څلورو بجو وي، نو تاسې باید هلته په ۳:۵۵ ورشی، ځکه چې هغه په ۴:۰۱ باندې ممکن بند واوسي. همداشان دا اصل باید تاسې د ریل ګاډو، بسونو او همداشان د هغوی د تلو د وخت په اړه مراعات کړئ.



له بیروکراسي سره معامله کول ځیني وختونه ډېر ستونزمن او ډېر ناکافي وي. هغه وخت نیونکي وي او معیاري پروسیجرونه باید ووهي. دا کار کېدای شي ځورونکي واوسي. خو بیا هم، دا بیروکراتیک پروسیجر د هر چا لپاره ورته او منصفانه وي. د رشوت ورکول یا ترې غوښتل جرم ګڼل کیږي.

په جرمني کې خلک زیاتره له ترافیکي قوانینو پیروي کوي. هغوی د ترافیکي نښو پیروي کوي او کله چې ووینې اشارې سرې دي نو بیا که په سرک باندې موټر هم نه وي، حرکت نه کوي: هغه کس چې په خپل حق کې راروان وي د لارې حق هم لري ("rechts vor links").

په ښارونو کې د بایسکلونو لپاره خانته لارې جوړې شوي دي. د موټر چلولو یا بایسکل چلولو پر مهال په ټلیفون کې خبرې کول یا مسیج لیږل ممنوع ده. کله چې په موټر کې سفر کوی، نو ټول مسافرین باید د خپل سیټ کمربند وتړي. که په موټر کې ماشومان وي نو باید د هغوی لپاره له ځانګړو جوړو شویو سیټونو څخه کار واخیستل شي.

د دفتر د کار په وختونو کې یوازې باید د راتلونکو زنګونه جواب ورکړل شي. یعنې د مازدیګر تر څلورو یا پنځو بجو پورې. په ټلیفون کې شخصي خبرې کولو ته معمولاً د شپې له ۹ څخه تر ۱۰ بجو پورې اجازه نشته. کله چې زنګ وهئ نو لومړی خپل نوم ورته ووایاست.

کله چې له عامه ټرانسپورټ څخه ګټه اخلی، نو باید لومړی ټیکټ واخلی. تاسې کولای شی چې دا ټیکټونه د خدماتو په څانګه او یا هم د ټیکټ له ماشینونو څخه واخلی. کله چې ریل ګاډو یا بسونو ته خیژئ، نو کله کله باید خپل ټیکټونه چیک کړی (په تیره بیا په لویو ښارونو لکه برلین او مونشن کې). د بېلابېلو سیمو او ښارونو تر منځ د ټیکټونه پروسیجر او ډولونه ښایي توپیر سره ولري.

# په بېړنيو حالاتو کې



تل هڅه کوئ تر څو له هغو کسانو سره چې په خطر کې دي مرسته وکړئ. وخت مه ضايعه کوئ لاس په کار شئ او تاسې هر څه کولای شئ. هر کس باید له بل کس سره چې په خطر کې وي، مرسته وکړي. د بېلګې په توګه د لومړنيو مرستو په برابرول کې او همداشان د بېړنيو حالاتو خدماتو ته په زنګ وهلو سره (لاندې يې وګورئ)

د شخړو، غلا او جنسي ځورونې په حالاتو کې:
پوليسو ته له خپل هر ډول تليفون څخه يوازې د ۱۱۰ شمېرې ته زنګ ووهئ. د پوليسو کارکوونکي عموماً ټول ډېر ښه خلک دي او هغوی ستاسې لپاره هلته ناست دي چې تاسې سره مرسته وکړي په همدې خاطر هغوئ هر زنګ ډېر جدي نيسي.

د اور اخيستنې يا طبي بېړنيو حالاتو په صورت کې:
د اور وژنې ادارې ته له خپل هر ډول تليفون څخه يوازې د ۱۱۲ شمېرې ته زنګ ووهئ. له هاټ لاين څخه يوازې بايد د ژوند ګواښوونکي بېړنيو حالاتو لپاره کار واخيستل شي. همداشان بايد په روغتونونو کې د بېړنيو خونو لپاره له هاټ لاين څخه کار واخيستل شي.

له ډاکتر سره د ليدلو لپاره بايد کډوال لومړی د ټولنيز امنيت له دفتر سره مشوره وکړي. د ډاکترانو دفترونه معمولاً د سهار له ۸ بجو نه د غرمې تر ۱۲ او کله نا کله له غرمې وروسته هم خلاص وي. زياتره ډاکتران په انګريزي ژبه باندې خبرې کوي.

که چيرته په ماښام يا د يکشنبې په ورځو يا نورو رخصتيو کې درمل ته اړتيا لرئ، نو کولای شئ چې خلاصو درملتونونو ("Not-Apotheke") ته ورشئ. د دې لپاره چې پوه شئ کوم يو درملتون خلاص دی نو له ګوګل څخه کار واخلئ او يا هم ۲۲۸۳۳ شمېرې ته زنګ ووهئ. له هر موبايل څخه به پر تاسې باندې په يوه دقيقه کې ۶۹ سينټه لګښت راشي. د نږدې خلاصو درملتونونو ليست د هر درملتون په شيشه باندې ځړيدلی وي.

# د دې لارښود په اړه

دا لارښود د هغو کسانو لپاره دی چې جرمني ته راغلي یا کېدوال وي او یا هم د جرمني راتلونکي اتباع کرځي. د دې لارښود موخه دا ده تر څو هغوئ ته په جرمني کې د لومړي ځل د راتګ لپاره پېژندګلوي وړاندې کړي. د کډوالو په اړه، د دې لارښود موخه دا ده تر څو هغوئ ته هغه ګټور معلومات ورکړي کوم چې هغوئ لا د انتیګریشن په کورسونو او د جرمني ژبې په کورسونو کې چې د دولت له خوا هغوئ ته جوړیږي، ګډون نه وي کړی. د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر میاشت نه ور هاخوا، د جرمني (Bundesamt für Migration und Flüchtlinge) اداره د همدې مقصد لپاره بیا کومه لارښونه هغوئ ته نه ورکوي.

دغه لارښوونه په بېلابېلو ژبو سره چې تصویري توکي هم لري هغوئ ته ورکول کېږي. دا لارښود په انلاین بڼه هم د لاسرسي وړ ده چې د چاپ کولو زمینه هم لري چې بیا تاسي کولای شی هغه خپلو نورو ملګرو ته ورکړئ. د دې لارښود چاپي بڼه به وروسته د لاسرسي وړ وګرځي.

د دې لارښود اصلي موخه دا ده چې ګټور معلومات وړاندې کړي. که څه هم، منو چې دغه لارښود کېدای شي یو غفلت یا منفي کړنه وبولو. دغه ممکنه تداخل په منظم او جدي توګه په دغه پروژه کې منعکس شوی دی.

د همدې لارښود مفاهیم او مطالب د زیاترو خلکو په مرسته ترتیب او طرح شوي دي ( د بېلګې په توګه د سوریې، افغانستان، سوډان، مصر، فلسطین د خلکو له خوا؛ هغه خلک چې تازه تازه جرمني ته راغلي دي؛ هغه خلک چې اوس په جرمني کې کډوال دي او داسې نور). د دې لارښود په ترتیب کې د کډوالو ښکېلول ډېر مهم و. کله چې مو له کډوالو سره د دغې پروژې په اړه خبرې کولې، نو په دې اړه په ځانګړې ډول سره بحث وشو چې که چیرته دا لارښود کوم غفلت یا منفي کړو وړو د پای ته رسیدو په توګه وګڼل شي. کډوالو په ښکاره ډول سره دې اندېښنې ته اشاره وکړه او برعکس، هغوئ دې ته ورته د لا زیاتو معلوماتو غوښتنه هم وکړه.

REFUGEE GUIDE.de

Impressum:
© Refugeeguide.de
Projektkoordination: Michael Strautmann, Franziska Fischer

Broschüren-Layout: Joanna Roer
Illustrationen: Maren Amini, maren-amini.de
Logo-Gestaltung: Freizeit-Werbeagentur.com

Redaktion: Viele ehrenamtliche Unterstützer, v.a. Studenten und Doktoranden, mit verschiedensten (geographischen und kulturellen) Hintergründen, die zu dieser crowd-gesourcten Orientierungshilfe beigetragen haben.

Übersetzungen:
Deutsch, Englisch, Arabisch, Französisch: eine Vielzahl ehrenamtlicher Unterstützer in Gemeinschaftsarbeit
Pashto: Organization of Afghan Alumni
Dari: Organization of Afghan Alumni und weitere Ehrenamtliche
Serbisch: Alexandra Vukovich
Mazedonisch: Alexandra Vukovich und Ana Ilievska Završnik
Albanisch: ein engangierter anonymer Unterstützer

Lekorat im Auftrag der Ernst Klett Sprachen GmbH:
Michael Krumm, mk-lektorat.de (Deutsch); Dr. Abbas Amin, arabisch-lektorat.de (Arabisch); Gillian Bathmaker (Englisch); Magali Armengaud (Französisch)

HESSEN

Herausgeber:
**Hessisches Ministerium
für Soziales und Integration**

Dostojewskistraße 4
65187 Wiesbaden

**www.soziales.hessen.de**